خالق رشید

۲۰۱۹/۰۹/۲۸

# سپي پرتخت تاووس ؟؟؟؟

## لنډه کیسه،

زموږ په کالج کې د دوو ځیزونوکمی نشته ، یو د سپیو اوبل د شنو ونو، هرې خواته ترهر شنه ډکي لاندې یوسپي پروت وي ، یا ویده وي او یاهم ځان ګروي او ټوله ورځ یي په همدغه ډږدنګ باندې تیریږي، کله کله که لږ څه باران ماران وشی ، بیا نو یوشوق هم کوي اوغاپی چې دایي په نادراتو کې شمیره شي. دشنو ونو پر څانګو باندې پرتوتیاتواو نورو مرغانو برسیره طاووسان هم په مزو سر وي او په خپله ښکلاسره غوږ ځورونکي غږونه ترخولو راوباسي، څکه تاووس چې ځومره ښکلي دی هم هغومره یي غږ کریږ اوزیږدی چې په سږي ښه نه لګیږي ...تاووسان لکه موږ اونورنراوښځی ګډ ګرزي راګرزي ، نریی ښایسته او ښځه نا شولته او بدرنګه ده خودخپل نارینه په ښکلا اوپه تیره چې خپلې ښکې په ښکلی نظم سره پرانیزي، داسې ویاړي چې ته به وایي انارکلي په زړو اوشلیدولو جاموکې دشهزاده سلیم په دربارکې له هغه سره غاړه په غاړه شوې ده... دتاووس له کریږجن غږه دمارانوساه وځي ، کله چې دهغه غږ واوري ، ځان ترې ساتي اویوې خواته ځان غلی نیسي اوچې چیرې سوړه ګوري ځان په کې پټوي، خکه چې تاووس په ځنګله کې د ماردسر دښمن دی او تاووس مارخوري ، څکه نوکله چې دهغه غږ اوري هغه ورته داسرافیل شپلۍ ده اودهغه درنې او بدرنګې پښنۍ منګولوورته د زابلي رستم دګرز ګوزار ...

نن سهار له نري پسته اوره وروسته هوا ډیره ښه شوې وه، له کړکۍ مې یوه اوبلې خوا ته وکتل، نرۍ شمال مې پرمخ را ولګید، څکه مې زرسپورتي کالي واغوستل او له کوره راووتم، ډله تاووسان له ونو را ښکته شوي وو، یوې او بلې خوا ته یي منډې وهلې ، مستي یي کولې ، دلته تل زموږ د کالج نجونې اوهلکان ټول پرې راټول وي ، ترڅو لاس ور وانه اچوې ، له چا منډه هم نه کوي... هرڅوک چې څه ډوډۍ او بسکویت هم وراچوي، پرې ورمنډې کړي ، که یې په زړه جوړ نه وو، بیا بی پروا ترې تیرشی... یوشیبه مې یې ښه ننداره وکړه ، زه لا ولاړوم چې زموږ کورته د نژدې څلورلارې سپي هم نن دیخې هوا له برکته را پورته شوي وو،نن یې ځانونه نه ګرول،یوه او بل ته به ورغاړوتل اوله یوه بل سره به په مستې بوخت ول ... رښتیا ماته نن د دواړو ننداري خوند راکړي و، نرتاووس به شوق وکړ، خپلې ښکې به یې یوځه سره پرانستې ، بیا به یې بیرته سره ټولې کړې، کریږه به یې وکړه اوله نوروسره به یې په حرکت پیل وکړ ...خوشیبي مې همدغې ننداري ته وکتل ، سپي سخت مست شوي وو، له ډیرې مستې به یې پرتاووسانو را ټوپ وهل ، داسې چې دوی فکرکاوه، هغوی به په خپل ترپ اوخرپ سره ونیسې ، هغوی به ځانونه ترې یوې او بلې خوا ته کړل ، خو چې پوه به شول چې دوی سپین سترګې کوي ، بیابه ترې والوتل اود ونې پرښاخ به برند ورته کیناستل او خپل چغې به یې ورباندې وهلې ، سپیو به یوڅو شیبې ورته وکتل څه به یې له وسه نه ورته کیدل ، بیرته به په خپلوکې سره اخته شول، چې ښه به سره ګرم شول، تاووسان به بیا مځکې ته راکښته شول، او دوی ته به یې په ځیرځیر سره کتل... سپیوته د دوی مستیوته ...

څوشیبي نه وې تیرې چې له کومې بلې خوا یوڅو نورسپي هم را پیداشول، په پیل کې خو ټول سره اخته شول، یوه اوبل ته غریدل ، کوړنجیدل، چې ورو ورو یی غریدا په دربیدا اوداړلواوخوړلو لکه دماما دزوی د کابلي سپیوغونډې سره بدله شوه ، سره اخته شول، ، داسې توده جګړه یی سره پیل کړه چې، پریوه اوبل یې د هیڅ صرف نه کوله، دچا سرمات ، دچا له خولې وینې راتلې اویویو چې له اخ وتوخه لویدلی و، هغوی به هلته پروتل اوخپل زخمونه او درونه به یې څټل ... بد حال یې سره جوړ کړی و، داسې چې خدای یي دې نه درباندې وینې ... اوزه لا ورته ولاړوم ... ما یی لانندارہ کوله ، خوڅوک نه وو چې سره خلاص یي کړي ، تاووسان هم پاس په ونوکې ورته ناست وو او د دوی دغې بدې ورځې ته کتل اوچغې یې ورته وهلې ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه په همدې کې وم چې يوناځاپه دکورمخې ته يو دروند ښکلي موټر ودريد، لاسم دريدلی نه و چې د ما ما زوی ، هغه چې تيره مياشت خپلو کابليوسپيو داړلی و او نژدې يوه مياشت يې په روغتون کې تيره کړې وه ترې را کښته شو، له خوشالۍ اوخندايي خوله نه سره ورتله ، زما ځنګ ته ودريد اوپه مينه مينه يې زموږ دکوځې د ډډيی سپيو ننداره پيل کړه ...ورته ودريد، ماچې ده ته دده دغې تلوسې ته وکتل دلويانو هغه خبره را ياده شوه چې داسې چا ته به ويله : شوق بل ډول شی دی ... ځوشيبی ورته ودريد زما پراوږه يې لاس کيښود :

ـ لالا، پوره يو مياشت شوه چې نه مې سپی ليدلی اونه يې جنګونه او ...

ما ور زياته کړه :

ـ بس ګوره يې ، ښه د زړه يخ دې پرې وباسه ...

ـ نه له دوی څه نه جوړيږي ... امريکايی روزل شوی کابلي سپي بيل خوند لري ...

ـ څنګه خوند ؟

ـ په هغه خوند هرڅوک نه پوهيږي ... هو، هرڅوک ...

موږ په همدغه کې وو چې تاووسان را ښکته شول، يوې اوبلي خواته يې په مندو پيل وکړ، يوه دوه پک اوپمن سپي چې ځانونه يې له جګړې لرې ساتلي وو، هغوی بيا پرتاووسانو پسې منډه کړه ، هغوی ټول بيرته ترې والوتل ...

دماما زوی له خندا ورته شين و، په خيرځيريې ورته وکتل، ما ته يې مخ را واړاوه او رانه يې وپوښتل :

ـ د سپيو له تاووسانو سره څه ؟

ـ بس نه يې پريږدي درګرده منډې ورپسې وهي ...

تاووسان بيا راکښته شول ، خو ډنګروچکول سپی بيا پسې واخيستل ... د ماما زوی څه چغې مغې پرې وکړې، خو بيا هم يي تاووسان مځکې ته نه را پريښودل، خدای شته چې دغې ننداري ښايسته شيبه ونيوه ، موږ ورته ولاړوو، حاجي کاکا له کلا راووت ، زموږ خواته راغی ، دماما دزوی پوښتنه يې وکړه، ده هم له موږ سره د سپيو اوتاووسانوننداره بدرګه کړه ، دهغه هم ډنګرسپي ته چې په تاووسانو پسې يې منډې وهلې خندا راغلی وه ، دده منډو ته سخت ځيرشوی و، زه اودماما زوی مخ په روانيدو شو، خو حاجي کاکا لاهم ولاړو، لا يی ورته خندل ، موږ غوښتل خدای پامانی ورسره وکړو، خوده زموږ لاسونه ونيول :

ـ چيرې ځئ دانندارە چا ته پريږدئ ؟

ما او دماما زوی چې له دغې ننداري ستړي شوو، نورمو دهغې دليدوتوان نه درلود خو دده په خاطربيا هم يوڅه ورته ځنډ شوو ...ده لا ورته کتل، اود ډنګر سپي منډوته سخت خندا نيولی و، له يوڅه ځنډه وروسته يی خپل څادر پراوږو سم کړ، له موږ سره روان شو، لايی خندل ، او له ځان سره يی په خندا خندا کې ترخوله داهم نرمه ترخوله راووته :

ـ عجيبه سپي دي ، داسې سره نښتي چې ته به وايې پرتخت تاووس باندې يې جنګ دی ...

ـ تخت تاووس ؟

زه ځای پرځای ودريدم ... حاجي کاکا که څه هم خپله خبره د ټوکي په چل وکړه ، خوما چې شاوخوا ته وکتل، هوا ته مې وکتل اودسپيو ننداري ته مې وکتل ، سوچ يووړم ، هو، سوچ ... داسې چې تراوسه يې هم وړی يم ، ځکه خو مې غوږونه تخت تاووس تخت تاووس زمزمه هره شيبه را تخنوي ، تخنوي ...

ـ عجيبه سپي ديي ، داسې سره نښتي ... چې ته به وايې پرتخت تاووس يی جنګ دی ؟؟

پای

د شل نولسم کال د سپتمبر ۲۶



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ